اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون

د دارالانشا عمومي ریاست

بشري سرچینې

د کارمونډنې لاربنود

**دا اطلاعیه له لوستلو وروسته لاسلیک او د غوښتنې فورم سره یو ځای یې تسلیم کړئ:**

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون هغو غوښتونکو ته چې د ګمارنې ۸،۷،٦،۵،۴،۳ بستونو سیالۍ کې ګډون کوي خبر ورکوي، چې لاندې موارد په جدي ډول په پام کې ونیسي.

۱ . محترمو غوښتوونکو د غووښتنې معیاري فورم اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون له وېب پاڼې ( aic.gov.af ) او د اصلاحات اداري او ملکي خدمتونو له خپلواک کمېسیون تر لاسه کړئ، په پوره مسوولیت او دقیق ډول یې پرته له د قلم چټلۍ ډکه کړئ. د اعلان د پای نېټې څخه مخکې خپل سندونه د لوړو زده کړو وزارت لخوا تایید شویو سندونه، که رسمي دنده ولري د خلص سوانح د صادرېدو نېټې څخه یې شپږ میاشتې نه وي تېرې شوي، که خصوصي دنده ولري د قرار داد خط یې د اقتصاد ، اطلاعات او فرهنګ او ټولو دولتي ادارو پورې اړوندو ادارو تصدیق کړي وي اړوند دفتر ته تسلیم کړي.

۱. هغه نوماندان چې خپل سندونه د برېښنالیک له لارې را استوي باید خپل ټول اصلي سندونه سکن او د یو (PDF) فایل په توګه چې حجم یې له (5MB) زیات نه وي را ولېږي.
۲. هغه نوماندان چې خپل سندونه نه سکن کوي او د موبایل په وسیله یې عکسونه اخلي او هره صفحه بېله بېله د برېښنالیک له لارې را استوي کیفیت یې ډېر ټیټ وي، نو له همدې امله د منلو وړ نه ده.
۳. که چېرته کوم غوښتوونکی د ملکي خدمتونو د بستونو د ګمارنې په پروسه کې له واسطې او له نفوذ څخه استفاده وکړي د همغه بست د سیالۍ له پروسې څخه وېستل کېږي.
٤. که چېرته په سندونو کې غلط او د واقعیت خلاف معلومات درج شوي وي، غوښتونکی له پروسې څخه وېستل کېږي.
۵. هغه غوښتونکې چې تحصلي سندونه او تصدیق کاپي یې د لوړو زده کړو تایید ولري د غوښتنې فورم سره یو ځای کړي. هېڅ ډول تصدیق، تحصیلي ستاینلیک د پوهنتونو او لوړو موسسو سرتفیکېټ چې د لوړو زده کړو وزارت تاییدي ونلري د اعتبار وړ نه دی.
٦. هغه تحصیلي سندونه چې له ۱۳۷۱کال څخه تر ۱۳۸۱ کال پورې صادر شوي وي، د ۱۳۸۵۱۲۱۲۴ نېټې دلوړو زده کړو ۱۸۸ ګڼې مکتوب پر بنسټ ایجابوي چې په یاد وزارت کې بیا و ارزول شي.
۷. له سرحد څخه بهر تحصیلي سندونه، د دال سندونو په لرلو او د لوړو زده کړو وزارت په ارزونې او تایید سر بېره د اکاډمیکو چارو د انسجام ریاست مکتوب هم اړین دی.
۸. د لوړو زده کړو وزارت لخوا د سرحدونو څخه بهر موقت تایید شوي سندونه د اعتبار وړ دي، خو غوښتونکی مکلف دی چې خپل تحصیلي سندونه د مصاحبې تر پیلېدو مخکې د ذیصلاح مراجعو لخوا تصدیق وکړي.

۹. څرنګه چې د لوړو زده کړو خصوصي موسسو محترم رياستونه يواځې د تحصيلي موسسو له ثبت او راجستر څخه تصديق کوي، څکه نو ايجابوي چې هغه محترم غوښتونکې چې له خصوصي پوهنتونونو او موسسو څخه فارغ شوي؛ د لوړو زده کړو خصوصي موسسې څخه د سند کاپي د فراغت له مکتوب سره يو ځای د غوښتنې فورم سره ضمه کړي.

۱۰. هغه محترم غوښتونکي چې په دولتي ادارو کې په رسمي ډول دنده تر سره کوي يا يې مخکې تر سره کړي وي، يو قطعه د خلص سوانح نوې بڼه چې د اداري يا وزارت د واحدونو لخوا صادر شوی وي، د کار وروستي مرجع څخه د کاري تجربې سند په توګه د غوښتنې فورم سره يو ځای کړي. هيڅ ډول خلص سوانح چې د دوهم واحد او ولايت څخه صادر شوی وي د اعتبار وړ نه دی، مګر که د لومړي واحد يعنې وزارت يا اړوندې اداري تاييد ولري.

۱۱. هغه محترم غوښتونکي چې په معتبرو نړيوالو موسسو کې يې دنده تر سره کړي وي. سندونه او کاري سوابق يې د همغې اداري د بشري سرچينو د څانګې له تاييد وروسته د قرارداد کاپي سره د غوښتنې فورم سر يو ځای کړي.

۱۲. که چېرته د غوښتونکي سندونه مشکوک وي له څېړلو او له اړوند بنسټ څخه يې د دقيقو معلوماتو له اخيستلو وروسته د موضوع د ښکاره کولو لپاره عدلي او قضايي ارګانونو ته وړپيژني

۱۳. ګرانو غوښتونکو د فورم د تسليمۍ په وخت کې پورته ياد شوي موارد په جدي ډول په پام کې ونيسئ، د سندونه کاپي بايد روښانه وي تر څو ښه ولوستل شي، پرته له دې نيمګړي ګڼل کېږي. د غوښتنې د فورم له تسليمۍ وروسته هيڅ ډول اسناد نه منل کېږي

په شرايطو برابر کسان کولای شي خپل سندونه دغه( hr.aic1398@gmail.com ) بريښناليک ته واستوي يا په مستقيم ډول يې اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون د بشري سرچينو امريت ته په قلعه فتح الله، شپږم سړک، څلورم کور ته تسليم کړي. د لا زياتو معلوماتو لپاره دغې (۰۷۸۹٦۰۵۹۷۳) شمېرې سره په اړيکه کې شئ.

نوټ: د غوښتنې فورم له دې ځای څخه ډانلوډ کړئ د يادولو وړ ده چې فورم پرته له چک ليست څخه نه اخيستل کېږي.

د غوښتنې فورم.docx

چک ليست ۱۱